حطيم جان ۲۰۱۱/۱/۲

# افغانان به کله د رباني صاحب له شره خلاص شي؟

پروفيسور برهان الدين رباني د جمعيت د ګوند مشر او د شوراي نظار نيکه چه د مشورتي جرګي په وخت کي کرزي صاحب ورته پنځه سفارتونه ډالۍ کړل چه دې غوړې ګولۍ ډير خوند ورکړ نو يو ځل بيا ئې دلوبې ډګر ته ودانګل او داخل ئې دنورو امتياز اتو په څنګ کې خپل زوي صلاح الدين رباني ،په ترکيه کې پرې سفير و ټا که.

د محترم رباني صاحب کار نامي په تيرو دريو لسيزو کې ټولو با احساسو هيوادوالوته دلمر د سترګي په شان روښانه دي. نو موړي د ستـم ګوند نوم ځکه جمعيت ايښو دلی دی چه دنورو شومو موخو تر څنګ ځيني پښتانه تير باسي مګر تګلاره يي هغه دستم تګلاره ده چه ژبني منطقوي او مذهبي مسايلو ته لمن وهل دي. علاوه له دې چه د ژبني منطقوي او مذهبي تعصباتو زيګنده دي، نورې کار نامي هم لري.
هغه دخپل حکومت په دوران کي شمال او نورو لا يتونوکې د پښتنو ځمکي او کورونه دخپلو فرما نونو په وسيله خپلو کسانو ته ورکړي دي چه دکرزي کمزوره اداره دستري محکمي په ګډون له ۲۰۰۱ کال را پدې خوا حق حقدار ته نشي سپارلی.
رباني دخپلي چمچي يعني فضل احمد معنوي په واسطه چه دشوراي نظار غړی او د پنجشير او سيدو نکی دی دخپل زړه ارمان تر سره کړ. هغه څه ئې چه غوښتل دپښتنو سره ئې په ټول هيواد کې وکړه. په دي وختوکې چی يو ځل بيا مو قع پلاس ورغلې دسولې دشو را دمشر په نوم دننه په هيواد کې هري خواته سفـرونه کوي چه د خپل ستم ګوند غړو سره ليده کاته کوي او دراتلونکي لپاره ځان او يابل د اعتماد وړکس قدرت ته ورسوي چه دا بيوزله ملت يو ځل بيا د اور لمبوته ور ټيل وهي.
در نو هيوادوالو تا سي څه فکر کوي چه آيا طالبان به د رباني سره خبروته چمتو شي؟ طالبان نوموړی ان تر کرزي صاحب ښه پيژني. نو دسولې خبرې خو پريږدئ بلکه نفرت او بې با وري يي نوره هم زياتيږي. مګر بر عکس دکرزي صاحب اعتماد پر رباني ورځ تر بلې زياتيږي چه دا دملت سره لويه جفا ده.
دافغانستان تاريخ ته چه وګورو (ببرک کارمل) داسي يوه څيره وه چه هر افغان يي دنوم په يادولو شر ميږي ددې بدنامي وطن پلورو نکي دډلې غړو رباني سره دروسيي په رهنمايي او ژبني تعصباتو په وجه نژدي اريکي در لودي چه تر څويي په جبل السراج کې داحمد شاه مسعود سره دمجاهدينو تر نامه لاندي دکودتا پلان جور کړ چه دقدرت بيمارانو پردې مظلوم ملت زړه ونه سو ځاوه او دکابل ښار ئې په هديرو او کنډو الو بدل کړ. څه دپاسه (٦٥) زره بيګناه وګړي ئې دماشومانو او تورسرو په ګډون شهيدان کړل او نن ورځ هماغه څيرې درباني او شوراي نظار په ملا تړ هسکه غاړه په ولسي جرګه کې ناست دي.

ځيني کسان دلته ګوته مجاهدينوته نيسي وايي چه مجاهدينو کابل وران کړ مګرپوښتنه دلته ده چه څوك به وي چه دمجاهد له نوم او دجهاد له مفهوم څخه بي خبره وي. مجاهدينو دخداي د رضا او د وطن د آزادۍ لپاره ځانونه قربان کړل نه دبلند منزله ودانيو يا په بهر کې دشرکتونو او بلدنګونو لپاره. نن ورځ يا معيوب يا په کراچيو کې ترکاري خرڅوي او يا هم له هيواده بهر سرګردانه ګرځي.
که څوك درباني صاحب ډلې مخکښو ته او يا هم دشوراى نظار مخکښو، حزب وحدت او دوستم ته مجاهد وايي دا به له مجاهدينو او جهادسره لويه جفا وي چه دهغوي عملکرد ټولو هيوادوالو ته د لمر د سترګې په شان معلوم دي.

دبلي خوا څو ګوډ او مات خلقيان هم په ولسي جرګه کې ناست دي چه هغه هم رباني وغلول او د جبهۀ شمال په نوم ئې اتحاد ورسره وکړ اوس د مچانو په شان سر او تندي وهي مګر څه په لاس نه ورځي.
ربانی ملي شتمني او دخلکو شخصي شتمنی لوت کړی. ... لکه د آريانا افغان هوايي شرکت طياري يي په بډه ووهلي او پر اير ان يي و پلورلي خو کرزي صاحب يي پر شا ټپوي چه نور هم تکړه شه او خورجيني له ډالرو ډکوه.
درباني کار نامي هرڅومره چه وسپړو خلاصون نلري هغه پرته له دی چه دهـندوستان، ايران او روسـيي د ګټو سا تندوي دی، مخدوم رهين دا طلا عاتو او کلتور وزير او دلوړو زدکړو سر پرست وزير هم پر شا ټپوي چه فارسي ژبو لپاره ډير څه وکړي لکه په دري ژبه کې چه مـتل دي (خود کش بيګانه پرست).
دافغانستان په تاريخ کې يوه بله بدنامه څيره هم وه چه هغه شاه شجاع وه هغه يوازې د انګريزانو مزدور وو مګر داسي ويل کيږی چه کله به ئې څوك دليدو لپاره د کابل بالاحصار ته ورغی، ده به ورته ويل چه زه بندي يمه مګر تاسو جهاد پري نژدی. **له دي څخه دا څرګنديږي چه شاه شجاع هم يو څه مينه له وطن سره درلوده** او يوازي د


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

انگلیس مزدور یا نماینده وه او  د ډیرو هیوادونو مزدوري يي نه کوله خو دجمعيت گوند او شوراي نظار مخکښانو ته هرهيواد چه طبله ووهي يا ئي وهلي ده دوي يي دگډا لپاره تيار دي چه له دي څخه سترگي نشي پټولي ځکه د دنيا مطبوعات جاسوسان معرفي او نومونه يي ښودلي دي.

د رباني زوم صديق چکري د حاجيانو پيسي غلا او نن په لندن کي چکر وهي مگر وطن دوسته مسلمانو افغانانو هغه له مسجده و شړلو. بل زوم يي احمد ضيامسعود اول وار د يونس قانوني سره يو ځاي په بهر کي د ډيرو نقدو پيسو او قيمتي ډبرو سره يو ځاي ونيول شول چه د آريانا تلويزيون له امريکي څخه خبر نشر کړ مگر دوهم وار له (۵۲) ميلون دالر و سره په بهر کي ونيو ل شو.
دا پيسي کرزي صاحب بخشش ورکړي وي او که له خيراته ئي غلا کړي وي.

رباني د دولت (۹۰) فيصده واك په لاس کي اخيستي دئ...دشورا له رياسته نيولي تر وزارتونو، له مهمو او حساسو پوستونو نيولي بيا تر سفارتونو چه وروستي بيلگه يي دولسي جرگي ټاکني وي.
**که د نوموړي  د تيرو دري لسيزو کړ نو ته نظر وکړو هغه ته د لستوني مار هم ويلاي شو.**

په اخرکي زما يو خواست  د جناب رباني صاحب څخه دي، چه الله پاك اوس هرڅه درکړي او عمر دي هم پوره خوړلي دی، پښي دي هم گورته ځوړندي دی، نو له تيرو سياستمدارا نو څخه پند واخله... په کور کی آرامه کينه... دالله پاك عبادت وکړه... نه  دا چه هغه ورځ راورسيږی چه بيا به هيڅ په لاس نه درځي.
لکه پښتو کي چه متل دئ (وروستي عقله کاشکي ته ږومبی وای).

په  درنښت


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ